# مطبوعاتي اعلامیه

## د پاکستان واکمنان غواړي چې د قدرت د مشارکت تر عنوان لاندې، په افغانستان کې د امریکا د استعماري دولت جوړښت پر ځای پاتې شي.

د پاکستان د ملي امنیت د بېړنۍ کمېټې ناسته (NSC) د ۲۰۲۱م، د اگیست په ۱٦مه، د عمران خان په مشرۍ او د فدرال وزیرانو او د پاکستان د وسله والو ځواکونو د قومندانانو په گډون تر سره شوه. داسې انگېرل کېده چې دوی به د بهرني سیاست په اړه یوه مستقله پرېکړه وکړي، خو هغه اعلامیه چې له دې ناستې وروسته صادره شوه، یوازې د زلمي خلیلزاد د بیانیې انعکاس و، چې د اگیست په ۱۳مه، د نړیوالو قدرتونو له ناستې وروسته په دوحه کې صادره شوې وه او له طالبانو یې پینځه غوښتنې پکې کړې وې؛ تر څو یې نړیوال په رسمیت وپېژني او مالي پورونه تصویب شي. دغه غوښتنې د یوه پراخ دولت تشکیل، ډموکراتیک نظام رامنځ ته کول، د ښځو او اقلیتونو د بشري حقوقو تضمین، د افغانستان له خاورې څخه د نورو خاورو پر وړاندې گټه نه اخیستل او نړیوالو قوانینو ته غاړه ایښودل وو. د ملي امنیت په ناسته کې گډون کوونکو ټینگار کاوه، چې پاکستان د نړیوالې ټولنې په همکارۍ له ټولو ښکېلو اړخونو سره جامع سیاسي حل او فصل ته لاره هواروي او دا یې د افغانستان د ټولو اقوامو پرمختگ وباله. د پاکستان سیاسي او پوځي رهبرانو خپلې غوښتنې په امریکا کې مطرح کړې او له طالبانو څخه یې وغوښتل، چې د افغانستان خاوره به د هېڅ ډلې له لوري د نورو خاورو پر وړاندې استفاده نه شي، په داسې حال کې چې غرب هم همدا هیله درلوده. له همدې امله، کله چې مقاومت کابل ازاد کړ، د پاکستان رهبرۍ طالبان وگواښل چې په زور سره کابل ازاد نه کړي، په داسې حال کې چې طالبان تر فشار لاندې وو، تر څو د ډیموکراتیک قدرت په وېش کې بشپړ مشارکت ولري.

د باجوه ـ عمران رژیم شپه او ورځ د سپینې ماڼۍ او پنټاگون لپاره د یوه رسمي اسانچاري په توگه په سیمه کې د امریکا د نفوذ د ساتلو په هڅه کې دی. دا په داسې حال کې ده چې د ډیورنډ کرښې حصار باید ړنگ شي، د امریکا ځمکني او هوایي کرښې قطع شي او د امریکا په ډیپلوماتیکو نمایندگیو کې جاسوسي مرکزونه وتړل شي، ځکه په دې برخه کې ځینې گامونه پورته شوي، چې د پاکستان، افغانستان او مرکزي اسیا اتحاد، د یوه واحد خلافت دولت په توگه رامنځ ته شي، خو د باجوه ـ عمران رژیم غواړي د خپلو صلیبي اربابانو گټې د پاکستان د مسلمانانو او د دوی د وسله والو ځواکونو د هیلو پر خلاف ساتي. رژیم له افغانستان څخه د امریکا په وتلو خپه دی، ځکه د امریکایي ځواکونو د حضور پر مهال یې ډېر مذاکرات غوښتل، تر څو طالبان د دوی ډېر حضور ومني. په حقیقت کې، د باجوه ـ عمران رژیم په سیمه کې د امریکایي گټو د ساتلو تر ټولو پیاوړی د ملا تیر بلل کېږي. بایدن د باجوه ـ عمران رژیم پر وفادارۍ بشپړ ډاډ لري او له همدې امله یې خپل ځواکونه له

افغانستان څخه وایستل، ځکه پوهېده چې د پاکستان واکمنان د مذاکراتو په محدوده کې د امریکا په سپارښتنه د طالبانو محاصره، نړیوال استعماري نظم او د دولت ـ ملت مفکورې لپاره اسانتیاوې رامنځ ته کولای شي.

**اې د پاکستان وسله والو ځواکونو!** د امریکا له اشغال څخه د کابل د ازادۍ واقعي ګټې، یوازې هغه وخت تر لاسه کېدای شي چې راولپنډۍ او اسلام اباد د امریکایي استعمار له نفوذ څخه پاک شي. تاسو دا وړتیا لرئ چې د امریکا سیمه ییز راج ته د پای ټکی کېږدئ او دا د هغو کارونو په محدوده کې راځي، چې الله سبحانه وتعالی تاسو ته بشپړ اختیار درکړی، چې د قیامت په ورځ به له تاسو پوښتنه کېږي. دا تاسو یئ چې د اسلام په اړه د تاریخ جریان لکه د تېر په څېر بدل کړئ. حزب التحریر د خپل نړیوال امیر، شیخ عطا بن خلیل ابو الرشته تر رهبرۍ لاندې، له یوې بشپړې برنامې سره چمتو دی، له همدې امله د نبوت پر منهج د د دویم راشده خلافت لپاره نصرت ورکړئ، چې په چټکۍ سره به اوسني هېوادونه د اسلام تر نوم لاندې سره متحد کړي او په دې سره بریا تر لاسه کړئ او داسې یو نړیوال تسلط تاسیس کړي، لکه څرنګه یې چې د پېړیو لپاره مخکې تاسیس کړی و.

الله سبحانه و تعالی فرمایي:

**[إِنَّمَا ذَلِكُمُ الشَّيْطَانُ يُخَوِّفُ أَوْلِيَاءَهُ فَلَا تَخَافُوهُمْ وَخَافُونِ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ]** [عمران: ۱۷۵]

***ژباړه:*** *اوس تاسو ته څرګنده شوه چې هغه په اصل کې شیطان و، چې خپل دوستان یې بې ځایه وېرول، له همدې امله په راتلونکي کې تاسو له کافرانو څخه مه وېرېږئ، زما څخه ووېرېږئ، که تاسو په رښتینې توګه د ایمان خاوندان یاست.*

**#Afghanistan**

**#افغانستان**

**د حزب التحریر ـ ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۳ هـ.ق، د محرم ۱۱مه**

**۲۰۲۱م، د اګیست ۱۹مه**

**د صدور گڼه: ۰۳/ ۱۴۴۳**